## د فلاډیلفیا سیمیز ښوونځی

# د وسلو ساتل منع دي

د پنسلونیا د قانون په اساس هر زده کوونکی چی د ښوونځی په کوم پروګرام یا غونډه کښې د وسلې سره ونیول شي، او یا هم پداسي حال کښې چی د ښوونځی په لوري او یا هم د ښوونځی څخه د وتلو په وخت کښې ( د ښونځی د بس او د عامه ترانسپورټ په ګډون) پرته له دې چی په کوم عمر او ټولګی پورې اړه لري د وسلې سره ونیول شي، باید ګرفتار او لږ تر لږه د یوه کال لپاره د ښوونځی څخه وشړل شي.

په قانون کښې وسله د " چاقو، پریکوونکي توکي، غوڅوونکي وسیلې، ګولی ویشتونکي وسیلې، ښکاري ټوپک، ټوپک او د هر هغه وسلې چی کولای شي خطرناک ځاني زیان او زخم را منځ ته کړی" په معني تعریف شوې ده. قانون زده کوونکي ته مخکې تر دې چی ګرفتار او د ښوونځی څخه وشړل شي د وسلو کارول او یا هم د کاروني د هڅې اجازه نه ورکوي. همداډول، هغه وسلې چی د ځان د ساتنې په موخه کارول کیږی د دی قانون څخه استثنا نه دي. هر هغه وسله چی د زده کوونکي په ځان، بکس، میز او الماری کښې وموندل شي د زده کوونکي ملکیت ګڼل کیږی.